عبدالحسیب حکیم

۲۰۱۶/۰۳/۰۲

# له ښاغلی مرادزي څخه یوه مهمه پوښتنه

ښاغلی مرادزی!

زه لیکوال نه یم، خو د لیکوالانو او ادیبانو ډیر احترام لرم. ستاسي لیکني تل لولم، په حقیقت کي تاسو او د پښتو ژبي ډیرو نورو وطنپالو لیکوالانو او ادیبانو د انترنت پیدایښت نه راپدی خوا د پښتو ژبي ته ډیر خدمت کړی دئ، کور مو ودان!
خو دا هم غواړم ووایم چي ستاسو په سیاسي لیکنو کي ملاحظي شته. تاسي په دي ښه پوهیږئ کومي غمیزي چي زموږ ملک ته څه د پاسه له څلورو لسیزو پرله پسي را رواني دي، د زیږیدني اصلي زانګویي د غوایي د اومي نیټي کودتا او په سر کي یی د کي جي بی مزدوران لکه: ترکی، امین، کارمل، نجیب او او په سلګونو نور اجنټان دي. که د غوایي کودتاه چیانو د شهید داود خان پر ضد خونړی کودتا نه وه کړی، نن به ستاسو په اصطلاح «جهادیانو» له دي ملکه څه ِغوښتل، بیا به کابل ولي ورانیده، او بیا به نن طالب او داعش له دي ملکه څه غوښتل.

مرادزی صاحب!

تاسو یوه لیکنه د فبروری په ۲۷ نیټه د افغان جرمن آنلاین په ویبپانه کي د «آیا هر بغاوت جهاد او هر بغاوتګر مجاهد دی؟» تر عنوان لاندي خپره شوه.
تاسي په دي مقالي کي لیکلي وو چي: «د افغانستان په تاریخ کي یواځي د غازی امان الله خان په مشری د برتانوی یرغلګرو په مقابل کي پاڅون جهاد و او بس»
ستاسو له لیکني څخه زما اخیسته داده چي د افغانانو پاڅون د الحادي رژیم او سرو لښکرو په مقابل کي جهاد نه وو؟.
زه ستاسو سره دیوه آزاد او مسلمان افغان په توګه مؤافق یم چي د مجاهدینو مشرانو د قدرت په خونړیو شخړو کي پلازمینه کابل ویجاړ او زرګونو مظلومو کابلیانو ته یي مرګ ژوبله ور واړوله او په زرګونو کابلیان یي هجرت ته اړ کړل او د دوي دي ناروا عمل د یونیم میلیون شهیدانو سره چي د روسانو او افغانی کمونستانو د ظلم او وحشت په نتیجه کي شهیدان شوي دي، یوه ستره جفا وه. زه د یو معتقد افغان او د شوروی ښکیلاک پرضد د جهاد لاروی چي په دي لاره کي مو د کورنی نږدي عزیزان له لاسه ورکړي، هیله مند یم چي یوه ورځ یو عادل حکومت د خلکو په استازیتوب په دي وتوانیږي چي د مجاهدینو هغه مشران او قومندانان محکمه کړي، کوم چي زموږ د پاک جهاد د بد نامی وسیله شول، که بیا له دنیوی محکمي نه بچ شول، نو زه یقین لرم چي د الله (ج) له محکمي نه به خلاص نشي.
استاد سیاف او هغه مشران چي د شهیدانو له آرمان سره یي ملنډي کړي، د هغو په خوله نه ځوک ټوپک اخلي او نه ځوک جهاد کوي. په ورستیو ټولټاکنو کي مو ولیدل چي خلکو استاد سیاف ته څو فیصده رایي ورکړې. زه فکر کوم چي یو غټ سبق وو، چي ولس سیاف ته ورکړ.
اوس به راشو هغه حقیقت ته چي تاسي هیڅکله هغه ته اشاره نه کوئ، هغه حقیقت دا دئ، کله چي خلقیانو او پرچمیانو له شهید داود خان سره نمک حرامي وکړه او هغه یي د یوي خونړی کودتا په جریان کي له ټولي کورنی سره په شهادت ورساوه، وروسته بیا همدغو مغرورو او د خدای منکرو خلقیانو او پرچمیانو ټول ملی او دینی ارزښتتونو ته سپکاوی او پښو لاندي یي کړل. افغان ولس ته یي د دوډۍ پر ځای ولږه، د کور په ځای ګور او د کالیو په ځای کفن ور کړ. هر هغه افغان چي د مزدور رژیم سره مخالفت کاوه، که نیکبخته وو، نو پلچرخی به یي ځای سه، او که بدبخته سری وو او له څه شهرت نه برخمن وو، هغه به تری تم سو. په لسګونو زره افغانان تر ننه پوري تري تم شوي. داسي کورنی به نه وي چي د کمونستانو په دوران کي یي قربانی نه وي ورکړي. په ملیونونو افغانان ګاونډیو هیوادونو ته هجرت ته اړ شول. د کمونستانو د وخت د مینونو د قربانیانو لړی لا اوس هم روانه ده.

مرادزی صاحب! زه له تاسو څخه پوښتنه کوم چي آیا د کمونستي رژیم او سرو یرغلګرو په مقابل کي د افغانانو پاڅون ته تاسي څه وایاست؟ آیا دا پاڅون جهاد و که نه؟؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

دا پوښتنه د دي د پاره کوم ځکه چي تاسي په خپله مقاله کي د افغانستان په تاريخ کي يواځي د غازی امان الله خان په مشری د برتانوی يرغلگرو په مقابل کي پاڅون ته جهاد ويلی دی. ستاسو له دې خبرې څخه داسي معلوميږي چي تاسي په جهاد معتقد ياست.

زه له تاسو څخه شخصی پيږندنه نلرم، خو ستاسو په مقالو کي ما هيڅکله د خلقيانو او پرچميانو پر ضد نيوکي ندي ليدلي. که تاسي د دې جريانونو يوه برخه ياست، بيا نو ستاسو څخه کومه خاصه گيله نلرم. او که تاسي يو مستقل ليکوال ياست نو مهرباني وکړئ، په خپل دا ښکلی قلم د اويايمي او اتيايمي لسيزې جنايتکارانو په هکله هم يو څه وليکئ. له کومه ځايه چي زه خبر يم افغان جرمن آنلاين د ملي گرا وطنپالو قلمی سنگر دئ. په دی سنگر کي د افغانستان ملي او ديني ارزښتونو ته خاصه پاملرنه کيږي. دوي له ټولو هغو جنايتکاران په خاصه توگه د غوايي د کودتا جنايتکاران چي د شهيد داود خان په شهادت سره يي دا غميزه پيل کړې په خپلو مقالو کي يادوني کړي دي. زه هيله مند يم چي زموږ ليکوالان، اديبان او شاعران ټولو ښکيلاک گرانو او ظالمانو ته په يوه سترگه وگوري. هر څوک چي ظلم کوي، خدای دي کور ورته وران کړي. الله پاک هر ظالم ته د جهنم وعده کړې، دا ظالم که ملا وي که شيخ الحديث که کمونسټ وي که ټکنوکرات د دوزخ لمبي به د ده انتظار کوي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ